# د تقاضا تیوری

# (Theory of Demand)

دیوه شي (جنس) تقاضا له هغه مقدار څخه عبارت ده چه په یوه ټاکلی وخت او مختلفو نرخونو کې د پیرودونکی د پیرودلو (اخستلو) توان ښیي

چې په لاندې فکتورونو (عواملو) پورې اړه لري

- د شي (جنس) بیه
  - د اخیستونکی یا مصرف کونکی عواید
- ترجیح (ددوؤ شیانو ترمنځ) لکه کیله او منه
- د مربوطه شي د بیې لوړوالی او کموالی، لکه پیپسی او کوک

## د تقاضا قانون

د تقاضا د قانون په بنسټ د یو شی د بیې (نرخ) او مقدار ترمنځ معکوسه اړیکه وجود لری چې د غې معکوسی رابطې ته د تقاضا قانون وایي

یعنی که د یو شی مقدار زیاتیږی په نتیجه کې بیه یې کمیږی او برعکس که بیې لوړیږي د تولید اندازه کمیږي ، او هغه مرحله چه د تقاضا قانون پکې صدق نکوی د قانون استثنا بلل کیږی

Download from:aghalibrary.com

# د تقاضا منحني

په هندسي يا ګرافيک ډول درقمونو په مرسته د جنس د مقدار او بيې ترمنځ معکوسی رابطی نمايش ته د تقاضا منحني وايی، معمولاً د تقاضا مقدار په ايکس محور او د شي بيه په وای محور ښودل کيږي چې د غه منحنې تل له چپ اړخ ښي لورته په نزولي ډول غزيږي.




# د تقاضا او غوښتنی ترمنځ فرق

غوښتنه د خواهش مترادف لفظ دی، اما تقاضا هغه غوښتنه ده چه د غه لاندې دوه ځانګړنې ولري.

- (د تاديه کولو ځواک( د اخستلو توان
- (د تاديه کولو ميلان او رضايت(هوډ توب

دواړه شرطونه د جنس په بيې پورې تړلی دی، يو څوک ديو شي غوښتنه لري خو د اخستلو توان او قدرت يې نلري، پس تقاضا نه بلکه غوښتنه ده

مثلاً ديوه ښه کورلرل يو خواهش دی اما د غه خواهش هغه وخت تقاضا کيدلی شی چه يو څوک يې د اخستلو توان او ميلان(رضايت )دواړه ولري.

# دتقاضا تابع

دتقاضا تابع ددوؤ یازیاتو متحویلو(بیه اومقدار)ترمنځ رابطه ښیي مثلآ

$$Q_d = f(p)$$

په پورتني معادله کې د تقاضامقدار د بیو یوه تابع ده، ځینې نور عناصر هم شته چې دتقاضا مقدار دهغوی تابع بللی شو د بېلګې په توګه په لاندې معادله کې دجنس تقاضاد(دشې د بیې، دمربوطه شی دبیې، عوایدو، او دمصرف کونکی دخوند او غوره والي) یوه تابع ده

$$D_N=f(P_N,P_R,Y,T)---------I$$

DN (Demand for N) =د n شي تقاضا
PN (Price of N) = د N شي بیه
PR (Price of Relative Commodity ) =د مربوطه شی بیه
Y (Income) = د مصرف کونکي عوايد
T (taste) = د مصرف کونکی غوره والی یا خوند نظر جنس ته
که په لومړي معادله کې $P_R,Y,T$ ثابت ونیسو نو لیکلی شو

$$D_N=f(P_N)-------II$$

په دې مانا چې که چیرته بیې تغیر او تبدیل مومی نو د شي تقاضا هم بدلیږی، چې پدې صورت بیه له تقاضاسره غیر مستقیمه اړیکه لري،چې دبیو په لوړوالی تقاضا کمیږي اوعکس دتقاضا په ډېرېدو بیې راټیټیږي.

اوس که مونږ د اولې معادلې هر متحول د دوهمې معادلې په څېردجنس له تقاضا سره وڅیړو نو لاندې دریمه معادله تشکیلیږي

$$D_N=F(PR)..........III$$

پورتنی معادله په ګوته کوی چې; که چیرته د مربوط شي (PR)بیې تغیر مومي ،نو دNجنس تقاضا هم تغیر کوي دبیلګې په توګه (پیپسي او کوکاکولا،نوکیا او سمسونګ مبایل،سوني او کمپک کمپیوتر) پدې مانا که دکوکاکولې بیې راټیټیږي نو دپیپسي تقاضا هم راټیټیږي،چې پدې صورت کې د Nجنس تقاضا د مربوطه

(تعويضي) جنس له بيو سره مستقيمه اړيکه لري او ګراف يې مخ په پيچومي ښويږي (رسميږي).

هيره دنه وي که دغه جنسونه تعويضی نه بلکه بشپړونکي جنسونه وي بيا په هغه صورت کې دNجنس تقاضا له بشپړونکی جنسونو سره نامستقيمه اړيکه لري او ګراف يې په ځوړ (لاندې) خواته رسميږي.مثلآ که دمبايل دخبرو نرخونه لوړيږي په پياله کې دمبايل تقاضا کميږي او برعکس...







اوس که مونږ نور متحولونه ثابت وساتو او د جنس تقاضا له عوايدو سره وڅيړونو

$$D_N=F(Y)\text{-----------}IV$$

پورتنی معادله د Nجنس تقاضا د شخص له عوايدو سره اړيکه څيري،چې پدې صورت کې شيان په دريو ډلو ويشل کيږي

١:دژوند اړين توکي

٢:عصري او عياشي توکی

٣: دټيټې بيې توکی

دعوايدو لوړوالی د دژند له اړينو توکو سره مستقيمه اړيکه لري، يعنې دعوايدوپه لوړيدو دژوند اړينو توکو تقاضا هم لوړيږي،خو ديوې ټاکلې مودې وروسته اړيکه ثابته پاتې کيږي يعنې بيا که هرڅومره عوايد لوړهم شي د اړينوتوکو تقاضا به ثابته وی په همدې شان ګراف يې هم تريوې ټاکلی ټکې پورې لوړيږي او ورسته ګراف يې ثابت دريږي.

په دو هم صورت کې دعواید ولوړوالی د عصري او عیاشي توکوسره مستقیمه اړیکه لري هرڅومره چې عواید لوړیږی په همغه اندازه د عیاشي جنسونو تقاضا هم لوړیږي،چې ګراف یې تل مخ پورته خواته ښوییږي،اما د ټیټې بیې توکې (هغه توکي چې مصرف کونکی یې دکمو عواید له کبله مصرفوي خو همدغه رقم شیان په لوړو بیو او ښه څرنګوالي (کیفیت) هم شتون لري) چې دعواید له لوړوالی سره تر یوې پولې مستقیمه او بیا نا مستقیمه اړیکه لري چې ګراف یې هم تریوه ټکې پورته خواته اوبیا بیرته شاته راګرځي په لاندې شکلونو کې یې ګرافونه لیدلی شی.




$$D_N=F(T)\text{--------}V$$

دمصرف کونکي خوند او غوره والی هم د دوؤ شیانو ترمنځ د جنسونو په تقاضا اغیزلرلی شي چې دغه اغیز دجنسونه تقاضا سره مستقیمه اړیکه لري،مثلآ په ګرم موسوم کې دایس کریم تقاضا زیاتیږي ځکه چې خوند یې زیات وي اما په ژمي کې دیاشوی جنس تقاضا کمیږي.